**خلافت؛ شرعي حقيقت او بشري اړتيا ده**

دا معلومه او ښکاره خبره ده چې په فقهي اصولو کې حقيقت درې ډوله دی: شرعي، عرفي او لغوي حقيقت. هر کله چې د هرې يو په اړه په شرعي نصوصو کې څېړنه کېږي؛ حتمي ده چې درې ګوني حقايق بايد په نظر کې ونيول شي او فقيه وويني چې ياده شوې کلمه يا اصطلاح شرعي مانا لري چې هغه واخيستل شي. که شرعي مانا ونه لري؛ په عرفي مانا پسې يې وګرځي، که يې هغه هم تر لاسه نه کړه؛ د هغې کلمې مانا په عربي ژبه کې وپلټي او وګوري چې په کوم سياق کې راغلې ده.

په ځانګړي ډول د «خلافت» د کلمې په اړه بايد ووايو چې: لکه څرنګه چې دغه کلمه په شرعي نصوصو کې راغلې ده؛ نو پر موږ لازمه ده چې د دغه کلمې په مانا، مفهوم او اصطلاح باندې پوه شو. البته د اصولي قاعدې له مخې چې مخکې يې يادونه وشوه، درې ګونو حقايقو پورې اړوند قاعده. امام احمد له نعمان ابن بشير رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً عَاضاً، فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ الله أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيّاً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ، ثمَّ سَكَتَ»

*ژباړه: نبوت به تر هغه پورې ستاسو په منځ کې وي څومره وخت چې الله سبحانه و تعالی وغواړي، وروسته چې وغواړي هغه به واخلي. وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي، تر هر وخت پورې چې الله سبحانه و تعالی وغواړي پاتې به شي، که ويې غوښتل هغه به هم واخلي. وروسته له هغه به ظالم پادشاهان راشي، تر هر وخت پورې چې الله سبحانه و تعالی وغواړي هغه به پاتې شي، بيا چې کله يې وغوښتل هغه به هم واخلي. وروسته له هغه به د نبوت پر منهج خلافت راشي، (رسول الله صلی الله عليه وسلم وروسته د دې له ويلو) چوپ شو (نور څه يې ونه ويل).*

په پورتني حديث کې د «خلافت» کلمه کارول شوې ده او مانا يې په اسلام کې د اسلامي حکومتولۍ ډول دی. دا يې شرعي مانا ده چې نور نصوص پرې دلالت کوي. لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې لاندې فرمايي:

«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ»

*ژباړه: د بني اسرائيلو سياست د پيغمبرانو پر غاړه وو، هر کله چې به پيغمبر له منځه ولاړ؛ پر ځای به يې بل پيغمبر راتللو. خو وروسته له ما به پيغمبر را نه شي، بلکې خلفاً به وي او ډېرېږي به.*

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو پوښتنه وکړه: (په هغه وخت کې) موږ ته په څه شي امر کوې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ»

*ژباړه: د لومړي خليفه سره پر بيعت وفا وکړئ.*

پيغمبران هغه کسان وو چې د خلکو سياست يې پر مخ وړلو. يعنې د هغوی د چارو سرپرستي يې کوله او د هغوی تر منځ به قاضي و. همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريح کړله چې له ده صلی الله عليه وسلم څخه وروسته به ډېر خلفاً راشي او د لومړي خليفه سره يې پر بيعت د وفا امر وکړ. د خليفه د ټاکلو طريقه يې مشخصه کړه چې بيعت دی. په همدې ډول رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا»

*ژباړه: هر کله چې په دوو خليفه ګانو سره بيعت وشو؛ دويم يې ووژنئ.*

په دې حديث کې د خلافت پر وحدت ټينګار شوی دی. دا چې د مسلمانانو خليفه بايد يو وي؛ ځکه چې د هغه چا وژل چې د لومړي خليفه په شتون کې د خلافت ادعا کوي؛ د دغه امر پر وجوب دلالت کوي. کوم احاديث چې پورته ياد شول په

اسلام کي د حکومتولی د نظام پر محور راڅرخېږي. نو «خلافت» په دې مانا سره، شرعي لفظ او اصطلاح ده او شرعي حقیقت لري او په دې قضیه کي د امت هېڅ معتبر علمأ اختلاف نه لري.

هغه علما چي د خلافت او امامت د تاسیس پر وجوب خبرې لري، کولای شم د نموني په ډول د دوی نومونه واخلم: :
ابو المعالي جُوَيني، ماوردي، ابن حزم، ابن حجر هيثمي، ابن حجر عسقلاني، ابن خلدون، نَسَفِي، جمال الدين غزنوي، عضد الدين اَيجي، قرطبي، ابن تيميه، شوکاني، شمس الدين رملي او له دوی پرته: د دوی څخه یې ځینو علماوو خلافت د دین له سترو واجباتو، ځینو هم د دین له اساساتو او ځینو یې د دین تاج بللی دی؛ ځکه چي د ډېرو فرایضو تطبیق هم په دې پورې تړلی دی او په له منځه تللو سره یې احکام او فرایض هم معطل وي. حتی له دوی څخه ځینو علماوو ویلي دي چي د امت علمأ یې پر وجوب د نظر اجماع لري. له دې اجماع څخه هېڅوک نه دي وتلي؛ مګر هغه کسان چي کاڼه غوږونه لري. ابن حزم د اهل سنت، تشیع او خوارجو ټولو د امامت پر وجوب نقل کړی دی، د دوی څخه ځیني استثنا دي.

د حیرانتیا خبره دا ده چي د «خلافت» پر قضیه پسي منفي خبرې اترې کېږي. زموږ منظور عام وګړي نه؛ بلکې ځیني علمأ دي چي په اوقاف، پوهنتونونو او په از هر کي چي شرعي منصب لري. هغوی ښه پوهېږي چي خلافت د مسلمانانو د تاریخ په اوږدو کي له دیني چارو څخه بلل کېږي. ښايي هغه څه چي دوی یې ترسره کوي او هڅه کوي چي د مسلمانانو پام د خلافت له بیا راګرځېدو څخه لیرې کړي، د بادارانو او اولیاوو د ارضا لپاره یې نعمت شي، هماغه کسان چي د یرغلګرو کافرانو پلانونه پلي کوي.

د ننۍ نړۍ وضعیت ته په ژورې کتني سره پوهېږو چي نړۍ اسلام ته اړتیا لري او هغه د خلافت دولت لخوا پلی کېږي. ځکه چي د پانګوال نظام مبدأ (ایډیالوژي) نړۍ د بدبختیو لور ته کش کاږي. دغي ایډیالوژۍ انسان د خپل ځان، خالق، هدف، د کار پای او په ژوند کي یې د داستان د پېژندني او څرنګوالي په اړه ګډوډ کړی دی. هغه ایډیالوژي چي انسان یې په یوه وچه آله تبدیل کړی دی، چي شپه او ورځ د خپل نفس او هوا لپاره کار کوي. دغه ایډیالوژۍ ډېر لږ کسان د ډېرو خلکو پر وړاندي، د نړۍ پر شتمنیو واکمن کړي دي. ډېری کسان خپلو اولادونو ته د ورځي ډوډۍ نه شي پیدا کولای، په داسي حال کي چي ډېر کم کسان داسي حالت کي ژوند کوي چي نه پوهېږي شتمنۍ یې چېرته مصرف کړي!

هغه ایډیالوژۍ چي د نړۍ لویو دولتونو ته یې دا فرصت مساعد کړی دی تر څو د نورو دولتونو د شتمنیو د څټلو لپاره خپل سیاست او پالیسۍ پلي کړي. هغه ایډیالوژي چي د پانګوالو لاس یې د وسلو او جګړو په سوداګرۍ کي ازاد پرې ایښی دی، په داسي حال چي په دې سوداګرۍ کي د بشریت او انسانانو له منځه تلل متصور دي. همدا راز د دوی لاسونه یې د ماشومانو په جنسي، د بدن د غړو، نشه یي توکو او ویروس په سوداګرۍ کي خلاص پرې ایښي دي. دغه ایډیالوژۍ په عقیده، نظر، ملکیت او شخصي ژوند کي د انسان په ازاد پرېښودلو سره، هغه په یو بې پروا موجود بدل کړی دی. دغه ایډیالوژۍ انسان، ونه او تیره فاسد کړي دي او ځمکه یې وروسته له اصلاح څخه فساد ته کش کړې ده.

بشریت د پانګوال نظام له تطبیق څخه تر پوزې راغلي ده او د بدیل په لټه کي دي. خو د اصلي حقیقي بدلون څخه یې مخ اړولی دی، هغه اسلام دی چي د انسان د خالق له خوا نازل شوی دی، هغه خالق چي له بل هر چا څخه یې مخلوق ښه پېژني، هغه غوره پوهېږي چي د مخلوق لپاره یې څه شی مناسب دي.

﴿أَلا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ﴾

[سوره الملک: ۱۴]

**ژباړه**: ایا چا چي پیدا کړي دي (د مخلوقاتو پر حال یې) نه پوهېږي؟

﴿هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ﴾

[نجم:۳۲]

**ژباړه:** الله سبحانه و تعالی هغه ذات دی چي هماغه وخت کي چي تاسو یې له ځمکي څخه پیدا کړئ، هغه ورځ چي تاسو د یو بې ارزښته جنین په بڼه د خپلو میندو په ګېډو کي وئ؛ له تاسو څخه ښه خبر و.

نو اې مسلمانانو! دا سمه ده چې پر تاسو د خلافت تاسیس فرض دی او دا هم پر ځای ده چې تاسو یې د بیا نه راګرځولو له امله ګنهکار یئ؛ خو په دې پوه شئ چې یوازې تاسو ورته اړتیا نه لرئ؛ بلکې ټول بشریت تاسو او خلافت ته اړتیا لري، ستاسو پر لور لیدونکی دی تر څو یې د پانګوال بد بویه نظام څخه وژغورئ. دا د الله سبحانه و تعالی امر هم دی چې پر پښو ودرېږئ او د الله سبحانه و تعالی شریعت حاکم وګرځوئ، په دعوت او جهاد سره هغه ټولو خلکو ته ورسوئ. پوه شئ چې خلافت ستاسو د رب ژمنه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری دی. ستاسو په منځ کې حزب التحریر شته او له تاسو سره د خلافت په بیا راګرځېدو کې فعالیت کوي. نو له دې حزب سره یو ځای فعالیت وکړئ! نصرت ورکړئ! اوږې یې شئ!

﴿إِن تَـنصُرُوا اللَّـهَ يَـنصُرْكُمْ وَيُـثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾

*ژباړه: که د الله سبحانه و تعالی (دین) ته نصرت ورکړئ؛ تاسو ته نصرت درکوي او ګامونه مو پیاوړي کوي.*

**لیکوال: له اردن څخه استاد خلیفه محمد**
**ژباړن: فریدون محتاط**
**سرچینه: الرایه جریده**
**نېټه: د ۲۰۲۰ کال د مارچ ۱۸مه**